# يو سړی و چې خلکو ته به يې پور ورکاوه، نو خپل غلام ته به يې ويېل: کله چې داسې سړي ته ورغلې چې په تنګسيتا کې و نو ورته ترې تېر شه، ښايي الله مونږ ته زمونږ - له ګناهونو - څخه تېر شي

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «يو سړی و چې خلکو ته به يې پور ورکاوه، نو خپل غلام ته به يې ويېل: کله چې داسې سړي ته ورغلې چې په تنګسيتا کې و نو ورته ترې تېر شه، ښايي الله مونږ ته زمونږ - له ګناهونو - څخه تېر شي، نو د الله تعالی سره پداسې حال کې مخ شو چې له ګناهونو يې ورته تېر شو».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغه سړي په اړه خبر ورکوي چې له خلکو سره به يې په قرض معامله کوله او يا به يې په نېټه خرڅول کول، او خپل هغه غلام ته به يې ويېل چې له خلکو يې د قرضونو غوښتنه کوله: کله چې قرضدار ته ورغلې او هغه څه نه درلودل چې شته قرض پرې د ناتوان له امله ادا کړي، نو "ورڅخه تېر شه"؛ دا چې يا ورته وخت ورکړې او په غوښتنه کې پرې سختي ونه کړې، او يا دا چې څه ورسره وي هماغه ورسره ومنې اګر که کم هم وي، پدې تمه چې الله تعالی ورته له ګناهونو څخه تېر شي او بخښنه ورته وکړي، نو کله چې مړ شو الله ورته بخښنه وکړه، او له ګناهونو يې ورته تېر شو.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3753

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee